# د افغانستان د سلامتۍ مسئله
# او شکاګو کانفرنس

قریب قریب څلور لسیزې جنګ د افغانستان په خاوره وشو، په دې جنګ کښې د دوؤ لویو قوتونو روس او امریکې ترمنځه بین الاقوامي رقابتونو او د سرد جنګ زمانه په یو فیصله کن جنګ کښې بدله کړه. روس او د روس نظام په شا لاړو، سویټ یونین د سویت یونین حېثیت وبایله او په دنیا کښې یوازې امریکه د سپر پاور په حېثیت پاتې شوه. په افغانستان کښې کۀ یو طرف ته د افغانانو ترمنځه د اقتدار جنګ عروج ته ورسېدو او په مکمل خانه جنګۍ کښې بدل شو نو بل طرف ته د روس د وتو او امریکې د پرېښودو باوجود د دنیا د ملکونو د مفاداتو یوه سلسله په افغانستان کښې شروع شوه، اوس داسې صورت حال پېدا شو چې دا پته به پکښې نۀ لګېده، چې حکومت د چا دے او څوک مجاهد دے او څوک شهید!!

د دې ګډوډۍ او بدامنۍ نه ګاونډیانو د فایدې اخستو نوي کوششونه شروع کړه او د طالبانو په نوم یې یونوے فورس تیار کړو، دا عجیبه خبره وه، چې د دې نوي فورس د تیارېدو سره سم د داسې قوت او طاقت سره په لویه پېمانه وسله بند خلق وردننه کړے شو، چې نن یې یوه فتح کوله او سبا بله.په دوه څلورو ورځو کښې یې کابل فتح کړو، د افغانستان اولسونو د دې هم په یو شکل کښې هر کلے ځکه کوو، چې دغلته په کلونو کلونو خوره بدامنې یې امنیت طرف ته بوتله، اګر چې ډنډ خړ او مهې ړاندۀ وو، هېڅ پته نۀ لګېده چې دا ټریننګ شویې غیبي مخلوق د چرته راغلۀ او په حکومت قابض شو، خو په سر سر کښې د امن و امان یوه اسره پېدا شوه او خبره د افغانستان د سیاسي تنظیمونو او قامونو او اولسونو نه یو داسې فریق طرف ته لاړه، چې ځینې ښاغلي خو یې د فتح په خوشحالۍ کښې بې د پاسپورټ نه افغانستان ته د منلو شوو نفلوا دا کولو له لاړۀ، هر چا به د دغو خلقو د منظم کولو دعوه کوله، روس مات شوے ؤ، امریکه موجوده نۀ وه او د مجاهدینو قسماقسم تنظیمونو شکست خوړلے ؤ، د منظم مداخلت دغه فتح څو کاله پس د امریکې دننه د ناین الیون د واقعې په شکل کښې دنیا ته ښکاره شوه او امریکې دوباره افغانستان ته نېغ په نېغه کډه راوړۀ او پاکستان ورسره د فرنټ لاین سټېټ په طور نکاح وکړه، اوس دغلته دویم جنګ شروع شو، ځکه

هلته نهٔ یوازې طالبانو پینځهٔ کاله حکومت کړے ؤ ، بلکې القاعده نوم هم د ناین الیون د واقعې سره په وړومبي ځل رابنکاره شوے ؤ ، په سر کښې دا جنګ یوازې د امریکې ؤ ، د نیټو پوځونه ورسره وو او د دې اثرات ورو په ورو خیبرپښتونخوا ته راخورېدل او ډېر زر د دې ملک خلقو تسلیم کړه چې اوس دا جنګ زمونږه جنګ هم دے. تقریباً شپږ میاشتې مخکښې په سلاله چیک پوسټ د نیټو له خوا حمله وشوه او ۲۴ پوځیان پکښې شهیدان کړے شو ، په دغه واقعه په وړومبي ځل د پاکستان او نیټو او امریکې ترمنځه تاؤتریخوالے پیدا شو ، شمسي ائیربیس خالي کړے شو او د نیټو سپلایي لاین بند کړے شو.

د ډېر تګ راتګ او خبرو اترو نه پس دا مسئله تقریباً حل طرف ته روانه شوه خو اوس ترمنځه د نیټو دپاره د سپلایۍ په لار کښې په څهٔ نه څهٔ شکل کښې د خلقو یوهجوم هم ودرېدو ، په اصل کښې په دې ټولو مسئلو ډېرې تبصرې او دلایل وړاندې کړے شوي دي، خو په اصل کښې چې د شکاګو په کانفرنس کښې د کومو فېصلو یو قسم له تجدید کېدونکے ؤ ، هغه د امریکې د صدر اوباما د طرف نه امریکنیانو ته هغه خطاب او د هغې پېغام ورکول وو. اوباما ووې چې د افغانستان د سلامتۍ د یقین نه پس مونږ د یوې ورځې دپاره هم دغلته پاتې کېدل نهٔ غواړو ،هغوي ووې چې په ۲۰۱۳ء کښې به د ایساف لار لنډه کړے شي او په ۲۰۱۴ء کښې به د نیټو عملیات واپس کړے شي.

مونږ واقعتاً ځلور لسیزې په جنګ کښې سوزېدلي افغانان ورونړه په امن کښې لیدل غواړو او غواړو چې بهرني پوځونه دې د افغاسنتان نه ووځي خو په دې کښې د ټولو نه لوئے رکاوټ هلته د امن مسئله یقین ته د نهٔ رسېدو ده، هلته موجودو قوتونو د افغانستان طالبانو ته نهٔ یوازې د خبرو دعوت ورکړے دے، بلکې د اخباري اطلاعاتو مطابق یې خبرې کړې هم دي او د بیا دپاره یې هم دغه اپشن برقرار ساتلے دے. دا به ډېره ښهٔ خبره وي چې په یو جمهوري انداز کښې د افغانستان ټول اولسونه د افغانستان په تعمیر کښې په شریکه برخه واخلي، ولې دې ته به څهٔ وایو چې یو تجزیه نګار په یوه مقامي رساله کښې په خپله تجزیه کښې د شکاګو د کانفرنس په حقله د امریکې د افغانستان نه دوتو خیال کهٔ یو طرف ته د تېښتې سره تعبیر کوي نو بل طرف ته وایي چې په شکاګو کښې هر څهٔ چې وشي، هغه په خپل ځائے خو حقیقت هم دا دے چې د افغانستان نه د امریکې او نیټو وتل نهٔ، د هغوي په مرضې ممکن دي نهٔ د پاکستان، بلکې چې کله طالبان وغواړي دا سې به کېږي.

د افغان طالبانو پالیسي دا ده چې امریکه او نیټو ووژني کم، خو رایې کارې زیات او د دې حکمت عملۍ دپاره د افغانستان نه زیات موزون ځائے په ټوله دنیا کښې بل نهٔ شي کېدے.

مونږه دا خو نهٔ شو وئیلے چې دا خبره به د طالبانو پالیسۍ ته څومره قریب وي او څومره به د هغوي د مرستې د خیال سره موافق وي، البته د دې نه یوه خبره دا هم راوځي چې ځینې قوتونه د

افغانستان نه د امریکې یا نېټو پوځونو د وتو په حق کښې نۀ دي. دویم ترې دا سوال پېدا کېږي، چې د جنګ دپاره د افغانستان خاوره موزون ځائے ګڼل، د افغانستان د سلامتۍ او ترقۍ په رفتار کښې تر عمره عمره کمے راوستل دي او دا خبره په حقیقي معنو کښې د یوې خاورې د حقیقي اولس په ځائے د رقابت عنصر زیات لري، باید چې هر څوک په حقیقت د ځان پوهولو کوشش وکړي او خپل خدمات خپلې خاورې او د خپل وطن اولسونو ته وسپاري.

# د اجمل خټک په مزار چاؤدنه

په دې موضوع ډېر څۀ لیکلي شوي دي او ډېر څۀ به پرې ولیکلے شي، حقیقت دا دے، چې اوس د بازارونو او چوکونو په ځائے په جنازو، جوماتونو، حجرو او ادیرو کښې چاؤدنې کول کومه نوې خبره نۀ ده. د دې هر څۀ مقصد هم دا دے، چې دغه خلق ټول په ټوله سوچه مسلمان پښتون قام، د هر هغه څۀ نه خلاصول غواړي، په څۀ هم چې په هر حالت کښې دا قام د یو قام په حېثیت خپل وجود لري. پښتون قام د یو تاریخ، یو کلتور، د یوې ژبې او تهذیب لرلو سره سره د یو شتمن وطن مالک قام هم دے. د دې قام سره دغه رقابتونه نۀ اوسني دي، نۀ نني بلکې د دې رقابتونو په شا یوه لویه تاریخي زمانه پرته ده. اجمل خټک خپله ټوله زندګي د دې دپاره دې قام ته وقف کړې ده، چې د دې قام بچي د دې هر څۀ د شعور خاوندان کړي، ولې په دغه مزار به د چاؤدنې فېصله چا کړې وي او په کوم قسم خلقو به یې کړې وي، شاید چې هغوي د دې نه نۀ دي خبر چې کۀ د اجمل خټک قبر وي کۀ نۀ، خو هغه د خپل ژوند کومه لمحه چې د دې قام د بچو دپاره تېره کړې ده، هغه یې د هغوي په زړونو او ذهنونو کښې نقش پرېښودې هم ده، خو د دې قام د بچو د ذهنونو نه او زړونو نه د هغۀ د جدوجهد د تاریخ یوه لمحه هم څوک تروړلے نۀ شي.

د اجمل صېب د ژوند ټول تاریخ او تاریخي لمحې، شپې او ورځې خو د هغۀ په ژوند ګواهانې وې، چې هغه د دې قام یو نۀ هېردونکے شخصیت ؤ او دے هم، ولې اوس یې د مزار دغه ویجاړې د یو داسې ګواه شکل اختیار کړو، کوم چې به د نور تاریخ نه علاوه، دا د هغۀ د مینې او شخصیت یو اهم باب هم وي، بېشکه افراد به یو په یو مري، خو قومونه او اجتماعي ژوندو په اصل کښې لافاني وي، اوس پښتون قام زېږېدلے دے او د زېږېدلو اولسونو نه ژوند په خپله د ژوند تقاضې کوي، هغه خپله وئیلي وو، چې زما د لوے کور انغے دې جوړ شي، خبر دے کۀ پاتې زما ځلے نۀ شي.